په حقايقو پوه شئ.

# هغه څه چې بايد پرې پوه شئ

اوس د 12 کلونو څخه پورته عمر لرونکو وګړو لپاره موجود دی

خپل ماشوم خوندي وساتئ. خپله ټولنه خوندي وساتئ.

## ماشومان او ځوانان د واکسين کولو څخه وروسته ترټولو خوندي وي.

د تنکيو ځوانانو او ځوانانو په ګډون نوموړی واکسين هرڅوک د کوويډ - 19 څخه خوندي ساتي. که چېرې ماشومان او کوچني ځوانان ناروغان هم شي، دا واکسين هغوی له شديد ناروغه کېدو څخه ژغوري.

د ډلټا بڼې په ګډون د کوويډ19- نوې بڼې شتون لري چې په اسانۍ سره خپرېږي او د لا ډېرو شديدو نښو سبب کېدی شي. دا واکسين تاسې د ډلټا په څېر د ويروس بڼو څخه خوندي ساتي.

## د کوچنيانو او تنکيو ځوانانو واکسين کول ټوله ټولنه خوندي کوي.

کله چې يو څوک واکسين شي، نو بيا ډېره مشکله ده چې نوموړی کس نورو ته کوويډ19- خپور کړي. کله چې په شرايطو برابر ماشومان واکسين شي، نو هغوی لاندې کسان خوندي کوي:

- کله چې د قانوني عمر لرونکي تنکي ځوانان واکسين شي دا خوندي ساتي.
- د لوړ عمر لرونکي خلک او هغه خلک چې ځينې خاصې ناروغۍ لري چې په کوويډ19- د اخته کېدو په صورت کې په جدي ډول ناروغه کېدی شي.

د ډېرو کوچنيانو او ځوانانو د واکسين  کيدلو په صورت کې د ښوونځيو او کاروبارونو پرانيستل اسانېږي.



## بې ضرره او ګټور

- د متحده آيالاتو په تاريخ کې بل کوم واکسين د خونديتوب لپاره دومره زيات ندی ازمويل شوی.
- د مختلفو نژادونو، قبيلو او عمرونو لرونکو کسانو په شمول، نوموړی واکسين د ماشومانو، تنکيو ځوانانو او بالغو کسانو لپاره بې ضرره ثابت شوی دی.
- داسې شواهد نشته چې وښايي دا واکسين ستاسې ماشوم يوه ورځ د اولاد لرلو څخه ناتوانه کوي.

## د ټولو لپاره وړيا دی

- د مهاجرت د حالت په نظر کې نيولو څخه پرته تاسې او ستاسې ماشوم کولای شي دا واکسين په وړيا توګه ترلاسه کړي.
- په وړيا ډول د واکسين ترلاسه کولو لپاره اړتيا نشته چې تاسې يا ستاسې ماشوم پېژندپانه ښکاره کړي يا روغتيايي بيمه ولري.

United Healthcare Community Plan

UNMC COLLEGE OF PUBLIC HEALTH

**For more information: cdc.gov/coronavirus**



## باید د څه شي طمعه ولرئ

هر کله چې ستاسو ماشوم د کوویډ-19- په مقابل کې واکسین شو، نو کولای شي چې عادي فعالیتونو ته ستون شي لکه ښوونځي ته تلل، لوبې کول، او د ملګرو او کورنۍ سره لیدل.



### د لیدنې په وخت کې:

- مخکې له دې چې ډاکټر یا نرس ستاسې ماشوم ته واکسین وکړي، هغوی به تاسې ته ددې په اړه ووايي، ستاسې د ماشوم له روغتیايي تاریخچې څخه به لیدنه وکړي او له تاسې څخه به وپوښتي چې کومه پوښتنه لرئ که نه.
- ستاسو ماشوم باید له 30-15 دقیقو پورې پاتې شي تر څو د حساسیت نه لرلو څخه یې ډاډ ترلاسه شي.

## د کمې کچې جانبي عوارض لرل عام دي

د جانبي عوارضو درلودل په دې معنا ندي چې ګواکې ستاسې ماشوم په کوویډ-19- اخته شوی.

د جانبي عوارضو درلودل په دې معنا دي چې نوموړی واکسین ستاسې د ماشوم بدن د کوویډ-19- سره د مبارزې لپاره چمتو کوي.

په کمې کچې جانبي عوارضو کې لاندې شامل دي:

- ☐ د مټ په هغه ځای کې چې واکسین شوی وي پړسوب یا درد
- ☐ ستړیا
- ☐ سر درد
- ☐ د عضلو درد
- ☐ لړزه
- ☐ تبه
- ☐ زړه بدوالی



## جدي جانبي عواض یې خورا کم دي

دا واکسینونه خوندي دي. د یو واکسین څخه د ناروغه کېدو په پرتله د کوویډ-19- له امله ستاسې د ماشوم په جدي ډول ناروغه کېدو احتمال خورا ډېر دی.

ډېر کم شمېر ځوانانو د زړه سوځېدلو (چې د مایوکارډیټیس myocarditis یا پیري کارډیټیس pericarditis په نامه یادېږي) یا د وینې لښته کېدلو په څېر جانبي عوارض درلودل.

- جدي جانبي عوارض یې خورا کم دي.
- جدي جانبي عوارض یې د درملنې وړ دي او ډېری خلک چې دا ډول جانبي عوارض لري، بیرته ښه کېږي
- د واکسین ګټې د هغې د زیانونو په پرتله خورا ډېرې دي.

## د لا زیاتو معلوماتو لپاره د خپل ډاکټر څخه پوښتنه وکړئ.

د کوویډ- 19 واکسین یا نورو هغو واکسینونو په اړه د لا ډېرو معلوماتو لپاره چې ممکن ستاسې ماشوم ورته اړتیا ولري، ستاسې د ماشوم له ډاکټر یا نرس سره خبرې وکړئ.

United Healthcare Community Plan

UNMC COLLEGE OF PUBLIC HEALTH

For more information: cdc.gov/coronavirus